مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.



سلطان جان کلیوال


۲۰۱۸/۱۱/۰۵

# محشر

کتل د ښځې نر ته، لوی عصیان بللي شي
که نر زوروی ښځه، قهرمان بللی شي

چی بنده لور او خورکاندی دکور په دیوالو کی
دا نښه د غیرت او د ایمان بللی شي

که ښځه برخه منه شی د لیک او لوست نه چیری
دا کار د دین او مذهب ته بیا تاوان بللی شي

که خرڅه د چا لور شوه په لکونو او کړونو
همدا سړی په سیمه کی بیا خان بللی شي

رواج دی پاتی شوی چی تابع ښځه د نر ده
حاکم چی وی په ښځه هغه ځوان بللی شي

حیران یم چی دا څنګه فیصله اوڅه دستوردی
چی مورته سپک نظری هم انسان بللی شي؟

انصافه ته هم ړوند یی ورکه شوی درنه لار
تیری! چی عدالت او یا احسان بللی شي

محشر به نور لا څه وی کلیواله تر دی لوی؟
چی پلار ته پیداینبت د لور خپګان بللی شی.

مارچ/۹/۲۰۱۳
ټورنټو۔ کاناډا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ